مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

۲۰۲۵/۰۳/۲۰

# ۱۴۰۴ هجري لمریز، د میني که د کرکې کال؟

مینه د حضرت نوح بېړۍ ده چې حتما خپل منزل او د امن ساحل ته رسي.
مینه که عاطفه او تلوسه ده، نو عبادت او ریاضت هم دی.

مینه هله د سکون ساه اخلي؛ کله چې د لیکلو لپاره لفظونه ختم او د زړه خال خال داغونه په رغېدو شي.
خدایه! د زړه حرم مې داسې بې امامه دی چې نه په کې مونځ د مینې کیږي، نه آذان کېږي له همدې ځایه، کرکه د ټایټینک کیښتی ده چې هیڅکله به د سمندر غاړه ونه ګوري.

ځکه کرکه د غلطي محاسبې زېږنده او د کینې او نفاق غوجل ده.
کرکه یوه روحي ناروغي او الهي عذاب دی.

کرکه هغه ناسور دی چې خومره د زړه تاخچو ته کوزیږي، هماغوره يې د علاج امېدونه له خاورو سره خاورې کېږي.
کله چې د مینې ځای کرکه ونیسي، نو ټولنه بیا د تعصب په تنور کې سوځي او وګړي یې د پردیتوب احساس کوي.

په دې اوه ځلوېښتو کلونو کې، ځلور غیر متجانس نظامونه زموږ په ولس باندې واکمن یا وتپل شول.

هر یو د خپل مخالف د حذفولو او رټلو هڅه وکړه او د انحصار، کرکې او اجنبیت بنه پرېمانه تخمونه يې وکرل.
پایله یې دا شوه چې نه مو جومات په امن دی، نه حجره، نه دېره او نه هدیره.

د منبر، سر، سنګر او لښکر سرې مو یو په بل پسې غلبیل غلبیل او د غلیمو ارادو نذرانه شول.
له وطن او وطنوالو سره وفا، د قوم، ژبې، مذهب، سمت او ګوند په خم کې رنګ او په زهرجنې جفا بدله شوه.
د هرډول شک شبهې پرته، له دیني باورونو، ملي ارزښتونو او هېواد څخه دفاع هم وجیبه ده او هم عنعنه.

ولې د درویزې په لومه کې د بندیوان ولس په خوله دا لاپې باتې چې فلانی مې مات کړ او بستانی مې په ګونډو کړ؛ د اوربدلو لپاره په نړیوال ستېج غوړونه نه لري.

نو د یوې مجربې نسخې په توګه، راځئ ۱۴۰۴ هجري لمریز کال په دې تکل او احساس سره پیل کړو چې:

« امن له جګړې څخه غوره دی او قلم له ټوپک څخه. اعتدال له افراط څخه بنه دی او شعور له شعار څخه».


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خیر و لولئ

د عرش د ستر واکمن دربار ته لاسونه لپه کوم چې دا نوی کال د نړی د اته ملیارده انسانانو او په ځانګړي ډول زموږ د باورمند، عقیدتمند او هیله مند ولس لپاره د سوکالۍ، آرامۍ او خوښۍ ډکه ولري.

باید هېر نه کړو چې مینه ناک خلک تل، د خلکو د زړونو په تل کې اوسیږي او کرکجن وګړي د بې آزارو په آزارولو سره، یوازې خپل ضمیرونه ځوروي او خواږه د ترخو په بیه اخلي.
کور مو له غنمو او پټاسو ډک

------------------------------------—

یادونه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، نو کولای شي د ملکزي نوري لیکني او ځیرنې د هغه په فیسبوک، لنکد ان او د یوټیوب په چینل کې ولولي او وګوري؛ ادرس یې دا دی: Wali Malakzay



د لیکوال نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ